مسایل ایدولوژیک	Ideological

دیالکتیک ماتریالیزم

دځوانانو لپاره

محمد رضا قرباني

ژباړه: مرېته سحر

دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره

لیکوال: رضا قرباني
ژباړه: مرینه سحر
ایډیټر: سرمد
خپرندویه: سیند خپرندویه

دیالکتیك ماتریالیزم
د ځوانانو لپاره
محمد رضا قرباني

و، نه و، هغه وخت چي هِګل و، ته نه وې.

ومو ویل هغه وخت چي هِګل و، ته نه وې. نو راځئ وګور چي دا هِګل څوك و. په تیرو وختونو کې یوه ورځ یو ماشوم نرۍ ته سترګي وغړولي، مور او پلار یې په دې ماشوم، هِګل نوم کیښود.
هِګل لـه ماشومتوب نـه د مطـالعې او څیرنـې لیوال و او کلـه چي لوی شو، یوه ورځ یـې لـه ځـان سره وویل: «لـه دې کارګرانو څخه چي په دې نړۍ کې هیڅ څه نه لري باید هغه دنیا هم وانخلو، پریږدئ چي لږ تر لږه د هغې دنیا پـه هیلـه یې ژړونه خوشحاله وي!» له همدې کبله یې وویل: «ګرانه کارګره! دا چي پانګوال په تا ظلم کوي، مه خپه کیږه، ځکه اصلي دنیا بل چیرې ده.»
هِګل دومره بد سړی هم نـه و، ځکه چي پـه خبره یـې سر خلاصیده او ویل بـه یې: «راځئ چي لـه یو بل سره بحث وکړو»... ډیر ښه! دې ته وایي ناندرې؛ دې ته وایي **دیالکتیك.**
ښه ګرانو ځوانانو! تر دې ځای په دې پوه شوئ چي د دیالکتیك معنا بحث کول دي او یوه یوناني کلمه ده.
(دیالکتیك خپل قوانین لري چي د هغې پـه اړه بـه پـه راتلونکو پـاڼو کـې معلومـات پیدا کړو، خو باید ووایو چـي هِګل د دیالکتیك قوانین کشف کړل).
یوه ورځ هِګل له خپل ملګري سره یوې دښتې ته ولاړ. دواړه ډیر زیات تږي شول. د هِګل ملګري وویل: «کاشکې لږې اوبه مو پیدا کړې وای!»
هِګل ورتـه وویل: «زما ګرانه ملګریه! تر هغه ځایه چي زه پوهیږم، ته په دې باور وې چي ټول شیان خوب او خیال دي او هیڅ شی په واقعي توګه نشته، نو اوس څنګه وایې چي کاشکې لږې اوبـه مو پیدا کړې وای؟ مګر ستا پـه نظر اوبـه واقعاً شته؟ ښکاره خبره ده، چي نه.»
ملګري یې ورتـه وویل: «سره له دې چي ډیر تږی یم او زړه مې غواړي چي د اوبو چینه پیدا کړم، خو بیا هم وایم چي ټول شیان او آن اوبه، خوب او خیال دي او واقعیت نه لري.»
هِګل وویل: «ته غلط فکر کوئ، د اوبو چینه او ټول نور شیان په واقعي توګه موجود دي، خو دا ټول شیان یو پیاوړي فکر پیدا کړي دي. یعني دا چي دا پیاوړی فکر له دنیا څخه مخکې موجود و او ټول شیان یې پیدا کړي دي. باید ووایم چي: **فکر د دنیا پیدا کوونکی دی.»**
د هِګل ملګري وویل: «مړه یاره! موږ دواړه ایده آلیستان یو. خو ته عیني ایده آلیست او زه ذهني ایده آلیست یم.»
ښه ملګرو، باور لرم چي هرومرو پوه شوي یاست چي ایده آلیزم یعني څه. که پوه شوي نه یاست، یو څه نـور هم پـه اړه یې وغږیږم؟ څنګه؟ ډیر ښه، یو څه به نور هم په اړه یې وغږیږم.
ایده آلیزم دوه برخې لري:
۱. عیني ایده آلیزم: دا مني چي ټول شیان زموږ پـه چاپیریـال کـې موجود دي، خو وایي چـي دا ټول شیان یو پیاوړي روح او فکر پیدا کړي دي، له پیاوړي فکر نه منظور، خدای دی.

۲. ذهني ایده آلیزم: وایي چې ټول هغه شیان چې موږ یې ګورو او لمس کوو یې، هغه تصویرونه دي چې زموږ په ذهنونو کې انځور شوي دي. په دې معنا چې ټول شیان یوازې زموږ په ذهن کې موجود دي او له ذهن نه بهر هیڅ شی وجود نه لري.
اجازه راکړئ، دا موضوع له علمي پلوه روښانه کړو.
ایده آلیزم د لاندینیو درې شیانو په هکله خبرې کوي:
۱. هر هغه څه چې موږ یې په خپلو سترګو وینو او په خپلو لاسونو یې لمس کوو، په واقعیت کې وجود نه لري؛ خبره ښکاره ده، یعني دا ټول شیان زموږ په ذهن کې دي او له ذهن څخه مو بهر هیڅ څه نشته. ځکه چې زموږ ذهن غواړي یو څه دي وي. د مثال په توګه زموږ ذهن غواړي چې اوسپنه وي، اوبه وي، تیږه وي، لرګی وي او داسې نور شیان وي. لنډه دا چې ټول شیان زموږ د ذهن محصول دي.



د ایده آلیزم له نظره، ټول شیان یوازې زموږ په ذهن کې موجود دي او موږ خیال کوو چې زموږ له ذهن څخه بهر دي!
ګرانو ځوانانو! ستاسو په فکر دا خبره سمه ده؟ دا خبره خو د لمر په شان روښانه ده او هډو فکر نه غواړي؛ معلومه ده چې سمه نه ده؛ ځکه چې کله یوه تیږه پر یوې شیشې ووهئ، شیشه ماتوي.



د شیشې ماتیدل ښکاره کوي چې ټول شیان بهرنی وجود لري او یوازې هغه تصویرونه نه دي چې زموږ په ذهن کې انځور شوي وي.
مړه دا خبره خو هسې یوه ملنډه وه، راځئ چې په دې خبرې وخاندو، ها ها ها ها ها.
اوس نو راځئ چې ولاړ شو او وګورو د ایده آلیزم دویمه خبره څه ده.
۲. ایده آلیزم په دې باور دی چې موږ په فکر کولو سره دنیا پیدا کړې ده، یعني دا چې موږ فکر کوو چې دنیا شته، که څه هم دنیا په اصل کې نشته او دا موږ یو چې فکر کوو دنیا وجود لري.
که دنیا په فکر کولو سره جوړه شوې وي، نو لومړی ښایي د انسان ماغزه پیدا شوي وي او وروسته بیا ځمکه، سپوږمۍ، لمر او ټول ستوري او سیارې پیدا شوي وي. خو علم وایي: لومړی ځمکه پیدا شوې، له هغې نه وروسته بوټي او ونې او هغه موجودات چې په اوبو کې ژوند کوي او بیا د وچې موجودات او انسان پیدا شوی دی.

ځمکه په اوبلن حالت کې — په انجماد حالت کې — په کنګل شوي حالت کې



اوبو ټوله ځمکه ونیوله او اوبه میشته موجودات په اوبو کې پیدا شول / د ځمکې یو په څلورمه برخه وچه شوه او پر هغې باندی بوټي او ژوندي موجودات راپیدا شول



د ځمکې له پیدایښت نه مخکې په میلیاردونه میلیاردونه ستوري او سیارې موجودې وې. نو کله چې علم موږ ته داسې یو څه وایې، څرنګه ایده آلیزم ادعا لري چې دنیا زموږ فکر پیدا کړې ده؟! آیا دا ملنډې نه دي؟
په رښتیا هم چې جالبه ده!
دریمه خبره هم د دوو تیرو خبرو په شان ده، خو مخکې له هغې باید په لاندیني مطلب پوه شو:
تیږه یو شی دی؛ همدا ډول اوسپنه، مس، لرګی او داسې نور؛ ټول شیان دي. ټولو د فضا یوه برخه نیولې ده (یعنې دا چې یو ځای یې نیولی دی) او د وخت په تیریدو سره وده کوي (یعنې په یو وخت کې موجود دي).
یو بل څه هم دې شیانو ته وایي.... که ومو ویل چې څه ورته وایي؟ لږ فکر وکړئ..... ډیر ښه، زه یې په خپله درته وایم. هو، دې ټولو شیانو ته ماده هم وایي.
ګرانو ځوانانو! هر هغه څه ته چې وکړای شوو هم یې په خپلو پنځه ګونو حواسو احساس کړو او هم په یو ځای او وخت کې موجودیت ولري، ماده وایي. خو دلته ځینو ته یوه پوښتنه پیدا کیږي او هغه دا ده چې مثلاً وبه وایي چې موږ خو میکروب لیدلی نشو، نو هغې ته هم ماده ویلی نشو؟!
نه ګرانو، داسې نه ده. اول دا چې کولای شو میکروب په میکروسکوپ وګورو. دویم دا چې میکروب د فضا یوه برخه نیولې ده او د وخت په تیریدو سره وده کوي او له هغه ځایه چې په یو ځای او وخت کې موجودیت لري، نو په دې کې هیڅ شک نشته چې میکروب هم ماده ده. سربیره پر دې، داسې ډیر ستوري او سیارې شته چې له موږ نه ډیر واټن لري او موږ نشو کولای هغه په خپلو سترګو ووینو، خو دا امکان شته چې ځینې یې په تلسکوپ (هغه وسیله ده چې د لرې واټن ستوري او سیارې ورباندی لیدل کیږي) وګورو او له هغه ځایه چې په یو ځای او وخت کې موجود دي (یعنې حجم لري او ورو ورو وده کوي) ماده ته ورته ویلی شوو.
یوه پوښتنه: آیا انسان ته ماده ویلی شوو؟
ځواب: هو، انسان هم ماده ده، په دې توپیر سره چې فکر کوي.
څو نورې پوښتنې به هم وکړم:
آیا تر اوسه مو چیرې لیدلي چې تیږه فکر وکړي؟ آیا کله مو لیدلي چې اوسپنه پر ډبرې ووهئ، ډبره چیغه ووهي، آخ؟!
نه؛ که مو وویل چې ولې؟ ځکه چې ډبره او اوسپنه او ټول بې ځانه شیان نه ماغزه لري چې فکر وکړي او نه احساس لري چې ووایي، آخ. ښه، دا خبره تر دې ځایه په یاد ولرئ.
اوس غواړم تاسو نه پوښتنه وکړم چې آیا انسان فکر کوي؟ ستاسو ځواب به هرومرو دا وي چې: هو. بیخي سمه ده؛ انسان فکر کوي، انسان په خپلو ماغزو سره فکر کوي.
نو راځئ چې اوس ورشو بیرته هماغه شیانو ته. یعنې غواړم تپوس وکړم چې ډبره او اوسپنه او لرګی او مس په څه سره فکر کوي؟
هو، سمه ده. هغوی اصلاً ماغزه نلري چې فکر وکړای شي؛ نو د فکر کولو لپاره باید د انسان د ماغزو په شان ماغزه ولري. نتیجه دا چې یوازې د انسان ماغزه کولای شي فکر وکړي. خو په خپله ماغزه څه دي؟ آیا ماده نه ده؟ هو؛ لکه څرنګه چې انسان ماده ده، د هغه ماغزه هم چې د وجود یوه برخه یې ده، ماده ده. سربیره پر دې ماغزه هم په یوه ځای او هم په یوه وخت کې موجودیت لري. نو بیا کولای شو ولیکو:
لومړی باید ماغزه موجود وي، تر څو فکر وکړای شو.
یعنې ماده له فکر نه مخکې وجود لري.
شعور څه شی دی؟ یوه هنداره په پام کې ونیسئ. هغه شیان چې له هنداره څخه بهر دي، په هغې کې لیدل کیږي. زموږ سترګې هم شیان ګوري او په خپلو ماغزو کې یې منعکس کوي. یعنې زموږ د چاپیریال د شیانو انځورونه (ماده) زموږ په ماغزو کې لویږي.
پایله دا ده چې شعور زموږ په ذهن یا ماغزو کې د مادې انعکاس دی. مادې میلیاردونه کاله وده کړې، دومره وده یې کړې تر هغې چې د انسان ماغزو ته رسیدلې.
اوس بیا یوه پوښتنه لرم:
که د مادې اوږده وده نه وای، آیا د انسان ماغزه به موجود وای؟
ځواب: نه.

که د انسان ماغزه نه وای، آیا شعور به وجود درلودلی وای؟
ځواب: نه.
نو ویلی شوو: شعور د مادې له اوړدې ودې نه پیدا شوی دی. که ماده نه وای، شعور به هم نه وای. ماده کولای شي بې له شعوره وجود ولري، خو شعور بې له مادې وجود نشي درلودلی؛ ځکه لکه څرنګه چې مو وویل: شعور په ماغزو کې د مادې انعکاس دی او کله چې ماده نه وي، شعور به هم نه وي.
نتیجه دا چې: شعور له مادې څخه مخکې نه دی؛ بلکې ماده له شعور نه مخکې ده.
ښه نو، راځئ چې وګورو ایده الیستان څه وایي.
۳. د هغوی دریمه خبره دا ده: فکر او شعور له مادې څخه مخکې وجود درلود او ماده یې پیدا کړې ده. خو موږ مخکې وښودله چې ماده له شعور او فکر نه مخکې ده. ماده کولای شي بی فکره او بی شعوره وي. لکه د ډبرې، اوسپنې او د نورو شیانو په شان؛ خو آیا تر اوسه پورې مو لیدلي دي چې فکر او شعور بې له مادې وجود ولري؟ ګرانو ځوانانو! د دې لپاره چې زما په خبره پوه شئ، دې پوښتنې ته ځواب ورکړئ:
فکر ماغزه پیدا کړي دي که ماغزه فکر پیدا کوي؟
تر دې ځای پورې پوه شولو چې ایده الیزم یعني څه. اوس وګورو چې ماتریالیزم څه ته وایي.

ماتریالیزم

ګرانو ځوانانو! هرومرو به مو په یاد وي چې ومو ویل هِګل یو ایده آلیست و؟ هغه له کومې طریقې څخه کار واخیست؟ آفرین! له دیالکتیک څخه.

و، نه و؛ یو سړی و چې نوم یې فویرباخ و. په هغه وخت کې زه او ته نه وو. یوه مور وه چې د لودویګ" په نامه یې یو زوی درلود. دې شیطان او وران هلک خپله مور ډیره په تنګه کړې وه. د هغه پوره نوم "لودویګ فویرباخ" و.
کله چې لودویګ ځوانی ته ورسید، یوه ورځ یې له یوه ایده آلیست سره بحث کاوه. ایده آلیست ورته وویل:
"مړه یاره! هیڅ څه هم وجود نه لري. دا شیان چې په خپل چاپیریال کې یې وینې، یوازې هغه تصویرونه دي چې ستا په ذهن کې انځور شوي دي، لکه څرنګه چې ځینې کسان وایي دا ټول شیان ماده دي، د هغوی خبره غلطه ده.
ماده هغه شئی دی چې واقعاً وجود ولري؛ خو په دې دنیا کې هیڅ څه نه پیدا کیږي چې واقعاً وجود ولري. نو له دی نه ښکاري چې ماده اصلاً وجود نه لري"
فویر باخ له ځمکې یوه تیږه راوچته کړه او ښاغلي ایده آلیست ته یې وویل: "دا تیږه وجود لري که نه؟"
ښاغلي ایده آلیست وویل: "لکه څرنګه چې مې وویل دغه تیږه یوازې زموږ په ذهن کې وجود لري او زموږ له ذهن څخه بهر وجود نه لري؛ هو ښاغلی فویرباخه! موږ یوازې خیال کوو چې دا تیږه واقعاً وجود لري، خو یقین وکړه چې اصلاً زموږ له ذهن نه بهر وجود نه لري. ته یوازې خیال کوې چې وجود لري."
فویرباخ د ایده آلیست له خبرو څخه په قهر او ستړی شو او په ډیر زور یې په هماغه تیږه د هغه سر وویشته او سر یې وربانډی مات کړ. بیا یې په کراره وویل: "اوس درته ښکاره شوه چې دا تیږه واقعاً وجود لري؟"

د فویرباخ د همدې کار له امله نورو ووېل:
"فویرباخ یو ماتریالیست دی، البته که ووایې چې ماده له فکر او شعور نه مخکې وجود لري."
هغوی رښتیا وېل. ځکه چې فویرباخ به وېل: "ماده او فکر له شعور څخه مخکې وجود لري."
خو چې کله به یې هغه ته وېل "ماتریالیسته!"، هغه به په قهرېدو او وېل به یې: "ماتریالیست دې پلار دی! ماتریالیست دې مور ده!"
هو، هغه یو ماتریالیست و خو په خپله یې نه منله چې ماتریالیست دی.
د فویرباخ د هِګل له فلسفې څخه بدې راتلل ځکه یوه ایده آلیستي فلسفه وه، په همدې خاطر یې دغه فلسفه چې د ایده آلیزم او دیالکتیک مخلوط وه، لرې واچوله.
په دې توګه؛ فویرباخ د هِګل دیالکتیک چې د طبیعت او ټولنې د پرمختګ د پېژندلو تر ټولو مهم عامل او د ایده آلیزم سرسخته مخالف و، هغه یې له ایده الیزم سره چې د بیوزلې او وروسته پاتیوالي عامل و، یوځای لرې واچاوه. هغه نه پوهېدو چې باید دیالکتیک د هِګل له ایده آلیستي فلسفې څخه جلا کړي، ځکه تر هغې چې ایده آلیزم په دیالکتیک پورې نښتی و، دیالکتیک هم د استفادې وړ نه و. د فویرباخ د همدې بې پروایی له کبله نورو به وېل: "هغه ماتریالیست دی، خو په دیالکتیک بیخي نه پوهېږي."
ګرانو دوستانو! تر اوسه پورې به حتماً لږ څه پوه شوي یاست چې ماتریالیزم یعنې څه، خو پرېشانه کېږئ مه. تر هغې چې دا مسئله په ښه توګه تاسو ته روښانه نه کړم بله مسئله به پیل نه کړم. تر څو ډاډه نشم چې تاسو په ماتریالیزم ښه پوه شوي یاست، چیرې مو داسې پرېږدم.
ماتریالیزم او ایده آلیزم تل له یو بل سره د مبارزې په حال کې دي. یعنې د یو بل پر ضد دي. وروسته به روښانه شي چې دا مبارزه د ماتریالیزم د ودې لامل ګرځي.
لکه څنګه چې مو مخکې ووېل، ایده آلیزم وایي:
۱. فکر او شعور له مادې څخه مخکې وجود لري او ماده یې پیدا کړې ده.
۲. ټول شیان یوازې په ذهن کې وجود لري.
۳. زموږ فکر، دنیا پیدا کړې ده.
خو ماتریالیزم وایي چې دا درې واړه خبرې غلطې دي.
اول ـ فکر او شعور له مادې څخه مخکې وجود نه لري؛ بلکې د مادې له اوږدمهاله پرمختګ څخه منځ ته راغلې دي.
همدا شان مخکې مو وښودل چې فکر او شعور له مادې څخه جلا وجود نشي درلودلی. مثلاً کله چې وایو فکر د ماغزو محصول دی، یعنې دا چې که ماغزه نه وای، فکر به هم نه وای. له هغه ځایه چې ماغزه د مادې د اوږدمهاله پرمختګ نتیجه او د مادې تر ټولو پرمختللې بڼه ده، داسې ویلی شو که ماده نه وي، فکر هم نشته.
نو روښانه ده چې فکر نشي کولای له مادې څخه جلا وي، خو ماده کولای شي له فکر څخه جلا وي، لکه د لرګي، اوسپنې، شیشې او نورو شیانو په څېر.
دویم ـ شیان په ذهن کې وجود نه لري، بلکې ټول شیان چې زموږ په چاپېریال کې دي، له ذهن څخه بهر او په جلا توګه واقعي وجود لري، نو ویلی شوو چې شیان نه خیالات دي او نه هم تصویرونه.
درېیم ـ موږ په فکر کولو سره دنیا پیدا کړې نه ده، ځکه چې اول مو ماغزه درلودل، وروسته مو وکړای شول فکر وکړو. سربېره پر دې ماغزه په خپله فکر کولای نشي، دا له ذهن څخه بهر نړۍ (ماده) ده چې لامل کېږي ماغزه فکر وکړي. د مثال په توګه: کله چې باران ورېږي، ماغزه فکر کوي چې ولې باران ورېږي؟ یا ولې په آسمان کې برېښنا او تندر پیدا کېږي؟ یا څرنګه شپه او ورځ منځ ته راځي؟ او داسې نور.
نو پر دې اساس دا زموږ فکر نه دی چې دنیا یې پیدا کړې ده، بلکې دا دنیا (ماده) ده چې زموږ فکر راپیدا کوي.
ښه نو، دا هم د ماتریالیزم په اړه څو خبرې وې، خو زموږ اصل مطلب بل شی دی، هغه دیالکتیک ماتریالیزم دی.
ګرانو، هِګل او فویرباخ خو به مو په یاد وي؟

یو ځل بیا یې په بیړه تکراروم.
هِګل، هغه ایده آلیست و چې د دیالکتیک قوانین یې کشف کړل، خو فویرباخ هغه ماتریالیست و چې د هِګل دیالکتیک یې د هغه له ایده آلیزم سره یوځای لرې وغورځاوه.
د هِګل فلسفه د ایده آلیزم او دیالکتیک مخلوط وه او د فویرباخ فلسفه هغه ماتریالیستي فلسفه وه چې دیالکتیک یې له ځان سره نه درلود.
ګرانو ملګرو، تر دې ځایه خو په ځینو خبرو پوه شوئ. راځئ چې اوس پر یوې بلې مسئلې وغږیږو، تر څو معلومات مو لا نور هم زیات شي.



یو و، یو نه و، زما او ستا نه پرته، ډیر شیان وو. یو سړی و چې مارکس نومیده او ډیر لوی فیلسوف او پوهیالی و. مارکس هغه ظلم او زورزیاتي ځوراوه چې پانګوالو په کارګرانو کاوه. په خپله یې هم په ډیرې بیوزلۍ او بدمرغۍ کې ژوند کاوه. له همدې کبله یې درې ماشومان له لوږې مړه شول. خو بیا هم هغه د خپلې کورنۍ او د خپل ځان په فکر کې نه و او دې ته چمتو و چې خپل ټول ژوند د کارګرې طبقې د ژغورنې لپاره قربان کړي. هغه خپل ټول ژوند د کارګرانو د خلاصون د لارې په پیدا کولو کې تیر کړ، ځکه چې د مارکس په وخت کې د کارګرانو طبقه تر ډیر فشار لاندې وه او د ارباب لخوا په ډیره بې رحمانه توګه استثماریده. لنډه دا چې، د کلونو څیړنو او زده کړو وروسته، ورو ورو یې پام شو چې د هِګل دیالکتیك د نړۍ د پرمختګ او د ودې پیژندنې یو مهم لامل دی، خو له هغه ځایه چې د ایده آلیزم په زنځیر تړل شوی، استفاده ورڅخه شوې نه ده. همدا شان د فویرباخ تیروتنې ته یې هم پام شو او په هغه یې د دې لپاره نیوکه وکړه چې د هِګل له ایده آلیزم سره یې د هغه دیالکتیك هم یو ځای لرې اچولی دی.
خو مارکس په خپله د هِګل ایده آلیزم لرې وغورځاوه او د هغه دیالکتیك چې ایده آلیستي رنګ یې درلود، واخیست او د فویرباخ د ماتریالیزم په کارولو سره یې د دیالکتیك ماتریالیزم فلسفه جوړه کړه.
په دې توګه هغه دیالکتیك ته ماتریالیستي بڼه ورکړه او فلسفه یې د بشر د خدمت په لارې کې په کار واچوله.

د دې لپاره چې دا مطلب تاسو ته ښه روښانه شي، هغه کار چې مارکس له کلونو رنځونو او زحمتونو له زغملو وروسته تر سره کړی، په دې توګه لیکو:

د فویرباخ غیر دیالکتیکي ماتریالیزم
د هګل ایده الیستي دیالکتیک
د فویرباخ له فلسفي څخه |غیردیالکتیکي| او د هِګل له فلسفي څخه ایده الیزم لرې کوو:
ماتریالیزم
دیالکتیك

د فویرباخ له ماتریالیزم او د هِګل له دیالکتیك څخه، دیالکتیك ماتریالیزم لاسته راځي.

دیالکتیک ماتریالیزم

راځئ اوس وګورو چې دیالکتیك ماتریالیزم څه ته وايي؟
تاسو پوهیږئ چې قند له لبلبو او کاغذ د ونې له لرګي څخه جوړیږي. همدا شان له تیلو څخه د سرکونو د پخولو تارکول، پټرول او ډیزل لاسته راځي. که هغه څه چې قند ورڅخه جوړوي، نه وي، قند به هم نه وي. او یا که تیل نه وي، نو تارکول او پټرول او ډیزل به هم نه وي.
په طبیعت کې ټول شیان له یو بل څخه لاسته راغلي دي، نو ویلی شوو:
ټول شیان یو په بل پورې تړلي دي او په یو بل باندې اغیزه کوي.
وچکالي له ځان سره قحطي یا لوږه راوړي. د پانګوالی نظام بیوزلي او لوږه رامنځته کوي. کارګري انقلاب، پانګوال ځپي.
وچکالي یوه طبیعي پدیده ده چې له ځان سره قحطي راوړي. طبقاتي نظام (برده ګي، فیوډالي او پانګوالي) چې ټولنیزه پدیده ده، بیوزلي او لوږه راوړي. کارګري انقلاب چې ټولنیزه پدیده ده، بله پدیده چې د پانګوالی له منځه وړل او د سوسیالیزم راتلل دي، له ځان سره راوړي. له دې کبله پدیدې له یو بل څخه نشي جلا کیدلی او له یو بل سره تړلي دي.

طبیعت د اشیاو او پدیدو مجموعه ده چې له یو بل سره تړاو لري. یعني له یو بل څخه جلا وجود نشي درلودلی.
د مارکس دیالکتیك وایي: طبیعت په هیڅ توګه د سکون او ودریدو په حال کې نه، بلکې د حرکت، پرمختګ او ودې په حال کې دی. کیدای شي یو جسم ظاهراً ساکن وي خو په اصل کې حرکت کوي.
یوه تیږه په پام کې ونیسئ. لومړی داسې فکر کوئ چې ساکنه ده، خو که لږ زیات فکر وکړئ او ورته ځیر شئ، ګورئ چې د حرکت په حال کې ده. تیږه د ځمکې په پرتله بې حرکته ده خو په اصل کې له ځمکې سره یو ځای ۲۴ ساعته او په کال کې یو ځل له لمر څخه تاویږي.
همدا شان د نړۍ ټول شیان د حرکت او ودې په حال کې دي.



په پخوا زمانو کې د ځمکې پر مخ داسې نیم خزنده موجوداتو ژوند کاوه چې ورته به یې ډایناسور ویلې.



د هغوی د ژوند په وروستۍ مودې کې کوچني تي لرونکي موجودات پیدا شول چې په ودې یې پیل وکړ، او په ورته وخت کې ډایناسوران هم د له منځه تللو په حال کې وو.
له دې پدیدې څخه موږ دوه نتیجې اخلو: یو دا چې په طبیعت کې یو شئ راپیدا کیږي، وده او پرمختګ کوي او یو بل څه له منځه ځي او په یو بل شي بدلیږي. بل دا چې هغه شیان چې ظاهراً مهم او پاینده ښکاري، خو په اصل کې د منځه تللو په حال کې دي او د اهمیت وړ نه دي. باید هغه شیانو ته ارزښت ورکړو چې ظاهراً ناپاینده ښکاري خو نوي پیدا شوي او غواړي وده او پرمختګ وکړي. له دې کبله له ډیرې کوچنۍ بڅرکې څخه نیولې تر لمر پورې، ټول د دایمي پیدایښت او له منځه تللو په حال کې دي، بې له دې چې دا پیدایښت او له منځه تلل یوه شیبه هم وځنډول شي. یعنې دا چې هر څه د حرکت او بدلون په حال کې دي.
ګرانو ځوانانو، لږې اوبه په یوه لوښي کې واچوئ او په اور یې کیږدئ. له لږې شیبې وروسته به اوبه په بخار بدلې شي. ګورو چې اور اوبه ایشوي. کله چې اوبه د یخوالي نه د ایشیدلو خوا ته حرکت کوي، دا حرکت ورو ورو تر سره کیږي، چې دې ته **کمي** بدلون وایي. کله چې اوبه وویشیږي، ډیر ژر اوبه په ناڅاپي توګه په بخار بدلیږي. یعنې اوبه د اوبلن حالت نه په ګاز (بخار) اوړي. دلته ګورو چې اوبو تغییر کړی دی. دې شان تغییر ته، **کیفي** تغییر وایي.
داسې نتیجه اخلو چې: کمي تغییر ورو ورو او سوکه سوکه دی او نشو کولای هغه سمدستي احساس کړو. په داسې حال کې چې کیفي تغییر ناڅاپي او ډیر ژر رامنځته کیږي، دا شان چې ان کولای شوو هغه احساس کړو.
د مارکس دیالکتیک وایي: وده یا پرمختګ، کیفي تغییر ته د کمي تغییر د رسیدلو پایله ده، او یا په بلې وینا کله چې کمي تغییر په کیفي تغییر بدل شي، وده یا پرمختګ رامنځته کیږي. کله چې وایو ټول شیان د پرمختګ او ودې په حال کې دي، یعنې دا چې هر شئ یو تاریخ لري: د پیدایښت او ودې تاریخ. د مثال په توګه ځمکه میلیاردونه کاله د یوې ډیرې تودې یا اوبلنې ټوټې په څیر وه او میلیونونه کاله تیر شول تر څو خپل دغه حالت له لاسه ورکړي او ورو ورو سړه شي. میلیاردونه کاله تیر شول تر څو بوټي او د اوبو موجودات او غرونه او د وچې موجودات یې پر مخ پیدا شي او آخر هم اوسني حالت ته راورسیږي. نو په دې اساس وایو چې ځمکه یو تاریخ لري. (د ځمکې تاریخ مو په لنډه توګه له نظر نه تیر کړ.)
په عمومي توګه دیالکتیک، د طبیعت او ټولنې د تکامل یا ودې تاریخ څیړي او مطالعه کوي او مثلاً وایي چې ځمکه څه وه، څه شوه او څه به شي.
که یو موټر له غره سره ولګیږي، مخه به یې کړوپه او خرابه شي چې دې ته هم تغییر یا بدلون وایو خو له کمي او کیفي تغییر سره توپیر لري، ځکه، که موټروان له احتیاط څخه کار اخیستی وای، دا تغییر به نه وی رامنځ ته شوی. نو کولای شو د دې تغییر مخه ونیسو، یا مثلاً که تاسې یو چینجی تر پښو لاندې کړئ، چینجی تغییر کوي، یعنې کولمې یې راوځي، خو که تاسې هغه تر پښو لاندی کړی نه وای، چینجی به ژوندی پاتی شوی وای. نو د دې تغییر مخه هم نیول کیدای شي. دې شان تغییراتو ته **مکانیکي** تغییر وایي.



خو کمي او کيفي تغييرات، هغه تغييرات دي چي په طبيعت او ټولني کي تر سره کيږي او په هيڅ توګه نشو کولای د هغي مخه ونيسو. مثلاً نشو کولای د ځمکي د تغيير يا د بوټو او ځناورانو د ودې مخه ونيسو. مګر دا چې کوم شی د هغي د مکانيکي تغيير سبب شي. مثلاً که يو څوک يو بوټی له ريښي راوکاږي يا ږلی هغه له منځه يوسي؛ او يا يو چينجی تر پښو لاندي شي او داسي نور.
د غنمو دانه په ځمکي کي کرو، دغه دانه له لمر څخه د حرارت په اخيستو، تغذيي او د نموالي له کبله، له څه مودې وروسته شنه کيږي، يعني د يو کوچني بوټي په شان له خاورو سر راباسي، وده کوي، څانګه نيسه، پاڼي او ګل کوي او آخر هم له دغي کرل شوي داني څخه په سلګونو نوري د غنمو داني پيدا کيږي. کله چې د غنمو دانه کرو، د غنمو دانه وده کوي او د غنمو وږي تري جوړيږي. دا د غنمو وږی، د غنمو هغه لومړی کرل شوي دانه نه ده، بلکې اوس يې فرق کړی او د غنمو په وږي بدله شوې ده، يعني تغيير يې کړی او دې ډول تغيير ته ديناميکي تغيير وايي.
دوستانو، حتماً پوهيږئ په هغه ټولنه کي چې ژوند کوئ، يو تاريخ هم لري. لکه څرنګه چې ټول شيان تاريخ لري، ټولنه هم يو تاريخ لري. ټولو لومړنيو انسانانو ګډ ژوند کاوه، په ګډ ډول يې ښکار کاوه، په ګډه سره به ويده کيدل او لنډه دا چې ګډ ژوند يې درلود. دا د انساني ټولني لومړنی پړاو دی چې ورته لومړنی کمون وايي. دې پړاو ورو ورو حرکت کاوه تر هغي چې لومړنی کمون له منځه ولاړ او ځای يې برده ګی ونيو. د لومړني کمون حرکت تر برده ګی پړاو پورې، کمي تغيير او د لومړني کمون له منځه تلل او پر ځای يې برده ګي راتلل، کيفي تغيير دی.

نو ويلی شوو چې ټولني وده کړې ده او دا وده د يوې شيبې لپاره هم نه غوځيږي. پر دې اساس برده ګي حرکت کوي او له سلګونو کلونو وروسته خپل ځای فيوډاليزم ته ورکوي.
فيوډاليزم، د ټولني د تکامل هغه پړاو دی چې پاچا به د خپلو ځمکو ډيره برخه اشرافو ته ورکوله او اشرافو به دا ځمکي په اجاره ورکولی. په فيوډاليزم کي دوه طبقي موجودې وي: د فيوډال طبقه (ستمګره) او د دهقان طبقه (زيارکښه).
د برده ګی حرکت تر فيوډاليزم پورې کمي تغيير دی، خو د برده ګی له منځه تلل او د فيوډاليزم رامنځته کيدل، کيفي تغيير دی.
همدا ډول فيوډاليزم هم تکامل کوي تر هغه چې په بشپړه توګه نابوديږي او وار پانګوالی ته رسيږي.
پانګوالی د کارګرانو د انقلاب له لارې، خپل ځای د کمونيزم لومړي پړاو يعني سوسياليزم ته ورکوي. سوسياليزم هم حرکت کوي او کمونيزم ته رسيږي. د کمونيزم په رامنځ ته کيدو سره، پانګوالي او ورسره جوخت ظلم او زبيښاک او طبقه له منځه ځي.
د مارکس له نظره د ټولني وده په دې ډول رامنځته کيږي:



آیا تر اوسه مو کله فکر کړی چې کله انسان یا بل هر ژوندی شئی مړ شي، څه تري جوړیږي؟ ستاسو په منځ کې به حتماً داسې کسان وي چې خیال کوي کله چې یو څوک مړ شي، نور نو ختم دی او له منځه تللی دی. خو زما ګرانو دوستانو، داسې نه ده. ژوند او مرګ د یو بل ضد دي. یو څوک چې ډېر زیات ناروغه وي، په حقیقت کې له مرګ سره جګړه کوي. نو بیا ژوندون او مرګ تل له یو بل سره د مبارزې په حال کې دي، یعنې د یو بل ضد دي.
خو آیا ویلی شوو چې له مرګ سره هر څه له منځه ځي؟ نه، کله چې یو ژوندی شئی مري، د هغې مړ جسم، خاوره پیاوړې کوي او بوټي او میوې هم له هغې تغذیه کوي. همدا شان انسانان او ځناوران د دغو بوټو او میوې نه استفاده کوي او خپل ژوند ته ادامه ورکوي. نو پر دې اساس، مرګ له ژوند سره اړیکې لري. یعنې مرګ د یو بل شي د ژوندون لامل کیږي او له ژوند څخه جلا نه دی.
د مرګ او ژوند مبارزه، د ودې عامل دی.
د مارکس دیالکتیک وایي: وده، د تضادونو مبارزې ته وایي.
په پانګوالی نظام کې، پانګوال په ډېرې بیرحمی سره کارګر زبیښي او وربانديې ظلم کوي. نو پر دې اساس کارګر او پانګوال د یو بل ضد دي او همدا تضاد د ټولنې د ودې لامل کیږي.
پانګوال او کارګر، تل له یو بل سره د مبارزې په حال کې دي؛ او بالاخره کارګران انقلاب کوي، پانګوالو ته ماته ورکوي او سوسیالیزم ټینګوي.
خو لکه څرنګه مې چې باید تاسو ته سوسیالیزم روښانه کړی وی، لا نه دی روښانه کړی. سوسیالیزم د کمونیزم لومړنی پړاو دی چې هم په کې د پانګوالی ځینې خصوصیات او هم په کې د کمونیزم ځینې خصوصیات شته. نو پر دې اساس کولای شوو ووایو چې سوسیالیزم هغه پل دی چې د پانګوالی او کمونیزم په منځ کې واقع شوی.



د پانګوالی په نظام کې که چیری پانګوال نه وي، کارګر به هم نه وي.
نو دې پایلې ته رسیږو: د پانګوالی په نظام کې، پانګوال او کارګر سره له دې چې له یو بل سره د مبارزې په حال کې دي، له یو بل سره وحدت هم لري. ځکه چې پانګوال بې له کارګره شتون نلري او کارګر هم بې له پانګواله.
همدا شان، د نړۍ ټول شیان او پدیدې په داسې حال کې چې له یو بل سره تضاد لري او د مبارزې په حال کې دي، خو

له هغه ځایه چې د تضاد یو اړخ د بل اړخ له شتوالي پرته د موجودیت امکان نه لري، نو له یو بل سره د وحدت په حال کې هم دي. د مثال په توګه نشو کولای چې نیمه منه وخورو او بیا هم پوره منه ولرو. یعنې د پانګوالی په نظام کې یوازې کارګر یا یوازې پانګوال وجود درلودلی نشي.
د غنمو یوه دانه کرو، دغه دانه په نم او د لمر په حرارت او په تغذیې سره شنه کیږي او وده کوي، ځانګې او ګلان نیسي او بالاخره له همدغې کرل شوې داني څخه د غنمو په سلګونو داني لاسته راځي.
د غنمو دغه کرل شوی دانه له یوې خوا غوړیږي په خپل حالت پاتې شي او له بلې خوا شنه کیږي او وده کوي؛ او دومره مبارزه کوي تر څو د یوه کوچني بوټي په شان پر ځمکې شین شي. دغه بوټی وده کوي، ځانګه نیسي، ګل او میوه کوي (د غنمو د ګل میوه، هماغه غنم دي خو یو غنم نه بلکې د غنمو نوري په لسګونو او سلګونو دانې)، کله چې کرل شوی غنم شین کیږي؛ یعنې د غنمو شنه کیدل د غنمو دانه رد یا نفي کوي او د غنمو لومړی دانه له شنه کیدو وروسته له منځه ځي.
د غنمو دانه وده کوي او د یوه کوچني بوټي په شان له خاورو سر راباسي، یعنې همدې کوچني بوټي د غنمو لومړنی دانه رد یا نفي کړې ده. همدا شان دا کوچنی بوټی خپلې ودې ته ادامه ورکوي، ځانګه او ګل نیسي او داسې نتیجه اخلو چې همدې ځانګې او ګل کوچنی بوټی رد یا نفي کړی دی.
له ګل څخه بالاخره میوه (د غنمو تازه دانې) راپیدا کیږي. نو بیا وایو چې ګل بیا رد یا نفي او د غنمو په دانو بدل شوی دی. مخکې مو وویل چې ګل په خپله هم د بل شي له نفي څخه پیدا شوی دی، نو بیا ویلی شوو چې ګل د نفي ـ نفي دی.
یوه پوښتنه: ولې وایو چې ګل د نفي ـ نفي دی؟

ځواب: حتماً په یاد لرئ چې ګل د غنمو له کرل شوې دانې څخه پیدا شوی، نو له هغه ځایه چې ګل د غنمو له دانې څخه پیدا شوی او بیرته په خپله د غنمو په دانو بدل شوی دی، وایو چې د نفي ـ نفي دی. د غنمو تازه دانې د ګل د نفي ـ نفي نتیجه ده.
د غنمو کرل شوی دانه تِز دی.
د دانې شنه کیدل، ترې بوټی جوړیدل، ځانګه نیول او ګل کول (چې د غنمو د کرل شوې دانې نفي دی) انتي تِز دی.
د غنمو نوی تازه دانې چې د ګل د نفي ـ نفي نتیجه ده، سِنتِز دی.
ګرانو ځوانانو، آیا کولای شوو ووایو چې د غنمو یوه دانه هم تِز وي او هم سِنتِز؟
نه، زما ګرانو دوستانو داسې ویلی نشو، هیڅ دا خبره نده کړې. د غنمو تازه دانه چې د غنمو له کرل شوې دانې څخه پیدا شوې، له کرل شوې دانې څخه یو اندازه بشپړه یا کامله ده. البته موږ نشو کولای د غنمو په دانې کې دا بدلون او وده احساس کړو. ځکه چې دا بدلون له زرګونو کلونو وروسته راځرګندیږي.
نو دې نتیجې ته رسیږو چې سِنتِز له تِز څخه یوه درجه پرمختللی دی.

د غنمو کرل شوې دانه تِز	**کوچنی بوټی او ځانګه او ګل انتی تِز**	**د غنمو پخې شوې دانې سِنتِز**

ښه به دا وي چې د دې مطلب د روښانه کولو لپاره یو بل مثال هم ورکړو. خو بده به نوي چې د دې مثال له ورکولو مخکې په دې پوه شوو چې طبقاتي نظام څه ته وایي؟
طبقاتي نظام د ټولنې هغه نظام ته وایي چې په کې طبقې موجودې وي. دا شان چې یوه طبقه ظالمه او زبېښونکې او بله طبقه مظلومه او زبېښل شوې وي. لکه د برده ګۍ نظام په شان چې په هغه کې د برده لرونکې طبقه زبېښونکی او د بردې (مریی) طبقه زبېښل شوې او مظلومه ده. یا فیوډالیزم، چې په هغې کې فیوډال یا ارباب ظالمه طبقه او دهقان زبېښل شوې او مظلومه طبقه ده؛ او آخري طبقاتي نظام، پانګوالي ده چې په کې پانګوال زبېښونکی او ظالم او کارګر زبېښل شوی او مظلوم دی.
اوس وګورو چې په طبقاتي ټولنه کې تِز، انتي تِز او سِنتِز په کومه ښه راښکاره کیږي:
د انساني ټولنې لومړنی نظام یعنې لومړنی کمون چې یو بې طبقې او ګډ نظام و، **تِز** دی.
طبقاتي نظام (برده ګي، فیوډالیزم، پانګوالي) چې دغه لومړنی نظام یې نفي کړی دی، **انتي تِز**، یعنې د تِز ضد دی.
آخري طبقاتي نظام پانګوالي ده. له پانګوالی وروسته کمونیزم رامنځته کیږي. په کمونیزم کې هم د لومړني کمون په شان یو ګډ ژوند واکمن کیږي، نو پر دې اساس موږ یو وار بیا له پانګوالی څخه یوځلي ګډ ژوند ته رسیدلي یو. نو وایو چې پانګوالي خپل ځان نفي کړی دی او په کمونیزم (ګډ ژوند) بدل شوی دی. خو څه چې روښانه دي هغه دا چې پانګوالي په خپله د بل شي له نفي رامنځته شوې او د نفي ـ نفي ده او کمونیزم چې د پانګوالی د نفي ـ نفي نتیجه ده، سِنتِز دی. خو پوهیږو چې سِنتِز هم هماغه تِز دی خو په دې توپیر سره چې له لومړني تِز څخه بشپړ دی.

کمونیزم	**طبقاتي نظام**	**لومړنی کمون**

سِنتِز   انتي تِز   تِز

په لومړني کمون کي ژوند ګډ دی او طبقي نشته. په کمونیزم کي هم ژوند ګډ دی او طبقي نشته، نو لومړنی کمون تِز او کمونیزم سِنتِز دی. په لومړني کمون کي د تولید وسایل ادنی (ساده) وو او هر چا په سختی سره خپله ګیډه مړوله، خو په کمونیزم کي د تولید وسایل په عجیبه توګه پرمختګ کوي او ټول د تولید په سترو وسایلو کي شریک دي.
په لومړني کمون کي به انسانانو د ورځي ۱۳ یا۱۴ ساعته کار کاوه تر څو خپله خیټه مړه کړي، خو په کمونیزم کي د تولیدي وسایلو د پرمختګ او پرګنیزه مالکیت له امله انسان د ورځي په ۵ او ۶ ساعتونو او له دي هم په کم وخت کي کولای شي ډېر ښه ژوند ولري.
نو ښکاره ده چي کمونیزم (سِنتِز) له لومړني کمون (تِز) څخه ډېر پرمختللی دی.
له هغه څه چي مو د تِز، انتي تِز او سِنتِز په هکله ووېل داسي نتیجه اخلو: د تِز او انتي تِز له مبارزې څخه، تکامل یا وده تر لاسه کېږي یا په بله وینا د تِز او انتي تِز له مبارزې څخه سِنتِز تر لاسه کېږي.

پوښتني او ځوابونه:

لومړی کوښښ وکړئ په خپله لاندینیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ او بیا یې له ورکړل شویو ځوابونو سره پرتله کړئ.
۱. آیا ماده له انسان څخه مخکي هم وه؟
ځواب: حتماً به وایاست چي هو. ځکه له انسان څخه مخکي هم ځمکه او ډېر نور شیان لکه ستوري او سیارې موجودې وې.
۲. آیا ماده په کومي ځانګړې نیتي کي پیدا شوې ده؟ یعني دا چي اول موجوده نه وه او بیا وروسته پیدا شوې ده؟
ځواب: نه، ماده تل وه او هیڅکله به هم له منځه ولاړه نشي، یعني وه، شته او وي به. موږ مخکي وښودله چي ماده له فکر او شعور څخه مخکي موجوده وه. همدا ښایي چي نشو کولای د مادې لپاره کومه ځانګړی نیته وټاکو. نشو کولای په نړۍ کي داسي یو شئی پیدا کړو چي له هیڅ نه جوړ شوی او یا هم په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي. که چیرې یو شئی له منځه ولاړ شي یو بل شئی ترې جوړیږي.
۳. مادي یعني څه؟
ځواب: هر څه چي له مادې څخه جوړ شوی وي، مادي دی.
۴. آیا نړۍ ته مادي ویلی شوو؟
ځواب: هو، ځکه چي نړۍ له مادې څخه جوړه شوې ده.
۵. آیا ټولنه او طبقاتي مبارزه، یعني د ظالم او مظلوم تر منځ مبارزه، د مادي نړۍ برخه ده؟
ځواب: هو، له مادي نړۍ څخه مقصد یوازې طبیعت نه دی، بلکي ټولنه، مختلفي طبقي او طبقاتي مبارزه هم په مادي نړۍ کي شامل دي.
۶. آیا ماده حرکت کوي؟
ځواب: هو، ماده بی له حرکته وجود نه لري. په حقیقت کي په نړۍ کي هیڅ شئی له مادې پرته حرکت نه لري او د مادې حرکت یو همیشنی حرکت دی.
۷. آیا کولای شوو د حرکت لپاره یوه نیټه وټاکو؟
ځواب: لکه څرنګه چي د مادې لپاره کومه نیټه نشو ټاکلی، همدا ډول د حرکت لپاره هم کومه نیټه نشو ټاکلی.

۸. آیا ماده بی له حرکت او حرکت بی له مادې وجود لري؟
ځواب: نشو کولای ماده او حرکت له یو بل څخه جلا کړو، حرکت او ماده له یو بل پرته وجود نه لري.
۹. آیا ماده او حرکت کولای شي له وخت او ځای پرته شتوالی ولري؟
ځواب: نه، ځکه چي ماده حجم لري، ځای ته اړتیا لري او لکه څرنګه چي حرکت کوي نو وخت ته هم اړتیا لري.
۱۰. د وخت او ځای په اړه ایده آلیستان څه نظر لري؟
ځواب: ایده آلیستان وایي چي وخت او ځای د انسان فکر پیدا کړی دی، یعني وخت او ځای د انسان د فکر محصول دی.
۱۱. آیا د ایده آلیستانو نظر سم دی؟
ځواب: نه، موږ پوهیږو چي ځمکه له انسان څخه میلیاردونه کاله مخکي رامنځ ته شوې او له دې کبله حجم لري، حرکت کوي او یوځای او وخت ته اړتیا لري.
۱۲. آیا وخت او ځای پای مومي؟
ځواب: نه، ځکه چي ماده او حرکت پیل او پای نه لري، نو وخت او ځای هم نه پیل لري او نه هم پای. وخت او ځای همیشني دي

۱۳۸۷